# فضائلِ اِستغفار

پښتو




شیخِ طریقت، امیرِ اَہلسنّت، بانیِ دعوتِ اسلامي، حضرت علّامه مولانا ابو بلال

مُحمّد اِلیاس عطّار قادِري رَضَوي

دامت برکاتهم العالیة

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَ الصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ط بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ط

# فضائلِ اِستِغفار

دا مضمون د کتاب ”مَدني پنج سُوره“ د 139 نه تر 161 صفحے پورې اخستے شوے دے.

دعائے امیرِ اهلِسنَّت: یا الله پاکه! څوک چې دا رساله ”**فضائلِ اِستِغفار**“ اولولي یا واوري، هغوئ ته د خپلې رضا د پاره د زیات ذِکر کولو توفیق ورکړې او بے حسابه ئې اوبخښې. اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

## د دُرُود شریف فضیلت

د آخري نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **فرمان مبارك** دے: ”ما په سورلئ د سور كَس د جام په شان مه جوړوئ چې په سورلئ سور كَس خپل جام د اوبو نه ډكوي بیا هغه كېږدي او سامان اوچتوي، بیا چې ورته كله د اوبو حاجت پیښ شي نو هغه څښي ګنې بیا ئې غورځوي خو ما تاسو د خپلې دُعا په اَوَّل او آخر او مینځ كښې یاد ساتئ. (مجمع الزوائد، 239/10، حدیث: 17256)

خدایا واسِطہ میٹھے نبی کا    شَرَف عطار کو حج کا عطا ہو

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د ”مَغفِرت“ د پنځوؤ حروفو په نسبت د اِستِغفار 5 فضيلونه

### (1)د زړونو د زنګ صفائي

د حضرت اَنَس رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ نه روايت دے چې د **خاتَمُ النَّبِيّين، محبوبِ ربُّ العالَمِين** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: بيشکه د اوسپنې په شان زړونو ته هم زنګ لګي او د دې صفائي اِستِغفار کول دي.

(مجمع الزوائد، 346/10، حديث: 17575)

### (2) د پريشانو او نيستئ نه نجات

د حضرت عبد الله بن عباس رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ نه روايت دے چې د رسولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارك دے: چا چې اِستِغفار په ځپل ځان لازم کړو الله پاک به د هغه هره پريشاني ختمه کړي او د هرې نيستئ نه به ئې په امان کړي او هغه ته به د داسې ځائے نه رزق ورکړي چې د هغه به ګمان هم نه کيږي.

(ابنِ ماجه، 257/4، حديث: 3819)

### (3) خوشحالوونکې عمل نامه

د حضرت زُبير بن عوّام رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ نه روايت دے چې د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ عاليشان دے: ښوک چې دا خبره خوښووي چې د هغه عمل نامه هغه خوشحاله کړي نو هغه له پکار دي چې ځپل اِستِغفار کښې زيات والے راولي.

(مجمع الزوائد، 347/10، حديث: 17579)

## (4) زيرے!

حضرت عبدُ الله بن بُسر رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ فرمائي چې ما د رسولُ الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه اوريدلي دي چې زيرے دے د هغه چا د پاره ثوک چې په خپله عمل نامه کښې زيات اِستِغفار بيامومي. (ابنِ ماجه، 257/4، حديث: 3818)

## (5) د سَيِّدُ الاِستِغفار لوستونکي د پاره د جَنَّت زيرے

د حضرت شَدَّاد بن اَوس رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ نه روايت دے چې خاتَمُ الْمُرسَلِين صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائيل چې دا "سَيِّدُ الاِستِغفار" دے:

اَللّٰهُمَّ اَنْتَ رَبِّیْ لَآ اِلٰـهَ اِلاَّ اَنْتَ خَلَقْتَنِیْ وَاَنَا عَبْدُكَ وَاَنَا عَلٰی عَـهْدِكَ وَوَعْدِكَ مَا اسْتَطَعْتُ اَعُوْذُبِكَ مِنْ شَرِّ مَا صَنَعْتُ اَبُوْءُ لَكَ بِنِعْمَتِكَ عَلَیَّ اَبُوْءُ بِذَنْبِیْ فَاغْفِرْلِیْ فَاِنَّه لَا يَغْفِرُ الذُّنُوْبَ اِلَّا اَنْتَ."[1]

چا چې دا د ورځې په ايمان او يقين سره اولوستلو بيا په هغه ورځ د ماښام نه مخکښې هغه وفات شو نو هغه جَنَّتي دے او چا چې په شپه کښې دا د ايمان او يقين سره اولوستلو بيا د سحر نه مخکښې هغه وفات شو نو هغه جَنَّتي دے. (بخاری، 190/4، حديث: 6306)

[1]••• ترجمه : "اے الله پاکه! ته زما رَبّ ئي ستا نه علاوه بل معبود نشته، تا زه پيدا کړم زه ستا بنده يم او د خپل وَس مطابق ستا په لوظ باندي قائم يم، زه د خپلوؤ کړے شوو د شر نه ستا پناه غواړم، ستا نعمت کوم چې تا په ما کړے دے د هغې اقرار کووم او د خپلو ګناهونو اعتراف کووم، ما اوبخښه، ستا نه علاوه بل هيڅ څوک ګناه نشي بخښلے."

## د ”وَاحِد“ د څلورو حروفو په نسبت د کلمه طیّبه 4 فضائل

### (1) خوش قسمته څوک

د حضرت ابو هُریره رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ نه روایت دے چې هغوئي عرض اوکړو: یا رسولَ الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! د قیامت په ورځ به ستاسو د شفاعت فیض مونډونکي خوش قسمته کوم خلق وي؟ اوئې فرمائیل: اے ابوهُریره! زما ګمان دا وو چې ستا نه مخکښې به د دې خبرې بل څوک زما نه تپوس نه کوي ځکه چې د حدیث اوریدلو په مُعامَله کښې ستا حِرص زه پیژنم، د قیامت په ورځ به زما شفاعت بیامونډونکے خوش قسمته هغه وي کوم چې د زړه په اخلاص ”لَآاِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ“ وائي. (بخاری، 53/1، حدیث: 99)

### (2) غوره ذکر او دُعا

حضرت جابر رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ فرمائي: ما نبي پاک صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په دې فرمائیلو واوریدلو: د ټولو نه غوره ذکر ”لَآاِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ“ دے او د ټولو نه غوره دُعا ”اَلحَمدُ لِلّٰه“ ده. (ابن ماجه، 248/4، حدیث: 3800)

### (3) د آسمانونو دروازې برسیره کیږي

د حضرت ابو هُریره رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ نه روایت دے چې نبي کریم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد اوفرمائیلو: ”کوم بنده چې په اخلاص سره لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ اووئیل نو د آسمانونو دروازې بیرته کړے شي، تر دې پورې چې هغه عرش ته اورسي خو چې د غټو ګناهونو نه ځان بچ کړي.“

(ترمذی، 340/5، حدیث: 3601)

## (4) تجدیدِ ایمان

د حضرت ابو هُریره رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ نه روایت دے چې د اسلام د ټولو نه لوئ مُبلِّغ، رحمتِ عالَم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: د ایمان تجدید کوئ [یعني ایمان تازه کوئ]. عرض اوکړے شو: یا رسولَ الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! مونږه د خپل ایمان تجدید څنګه اوکړو؟ اوئې فرمائیل: ''لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ'' زیات وائې.

(مسند امام احمد، 281/3، حدیث: 8718)

## د ''سُبْحَانَ اللّٰهِ وَ بِحَمْدِهٖ'' وئیلو 3 فضائل

### (1) ګناهونه ختمولے کیږي

د حضرت ابو هُریره رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ نه روایت دے چې د رسولُ الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارك دے: څوک چې 100 ځله ''سُبْحَانَ اللّٰهِ وَبِحَمْدِهٖ'' لولي د هغه ګناهونه ختمولے کیږي اګرچې د سمندر د زګ برابر وي.

(ترمذی، 287/5، حدیث: 3477)

### (2) د سرو زرو د غر صدقه کولو ثواب

د حضرت ابو اُمامه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ نه روایت دے چې د رسولُ الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ عالیشان دے: د چا د پاره چې د شپې عبادت ګران وي یا هغه خپل مال لګولو کښې د بخل نه کار اخلي یا د دُښمن سره د جهاد کولو نه ویریږي نو هغه دې ''سُبْحَانَ اللّٰهِ وَبِحَمْدِهٖ'' زیات وائې ځکه چې داسې کول الله پاک ته په خپله لار کښې د سرو زرو غر صدقه کولو نه زیات خوښ

دي. (مجمع الزوائد، 112/10، حديث: 16876)

## (3) جنّت کښې د کجورو ونه

د حضرت عبدُ الله بن عَمرو رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ روايت دے چې د الله پاک آخري نبـي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: څوک چې ”سُبۡحَانَ اللّٰهِ وَ بِحَمۡدِهٖ“ اووائي د هغه د پاره په جنّت کښې د کجورو ونه لګولے شي.

(مجمع الزوائد، 111/10، حديث: 16875)

## د ”لَاحَوۡلَ وَلَاقُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰه“ لوستلو 3 فضائل

## (1) د جنّت دروازه

د حضرت مُعَاذ بن جَبَل رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ نه روايت دے چې نبـي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد اوفرمائيلو: آيا زه تاسو ته د جنّت په دروازو کښې د يوې دروازې په باره کښې اونه وايم؟ عرض اوکړے شو: هغه څه دي؟ ارشاد ئې اوفرمائيلو: ”لَاحَوۡلَ وَلَاقُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰه“ (مجمع الزوائد، 118/10، حديث: 16897)

## (2) د 99 بيمارو د پاره دوائي

د حضرت ابو هريره رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ نه روايت دے چې نبـي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: چا چې ”لَاحَوۡلَ وَلَاقُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰه“ اووئيل نو دا د هغه د پاره د 99 بيمارو دوائي ده. په هغې کښې يوه وړه بيماري غم او فکر دے.

(الترغيب و الترهيب، 285/2، حديث: 2448)

## (3) د نعمت د حفاظت نُسخه

د حضرت عُقبه بن عامِر رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ نه روايت دے چې د الله پاک خوږ

نبـي، محمد عربـي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: چا له چې الله پاک څه نعمت ورکړو بيا هغه بنده هغه نعمت باقي ساتل غواړي نو هغه له پکار دي چې ”لَاحَوْلَ وَلَاقُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰه“ زيات وائي. (معجم کبیر، 311/17، حدیث: 859)

## د راپاڅيدو د وخت 3 اَوراد

(1) د حضرت عُباده بن صَامِت رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دے چې نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: څوک چې د خوب نه راپاڅيدو او دا ئې اوويئيل:

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَهٗ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ط اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَسُبْحَانَ اللّٰهِ وَلَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاللّٰهُ اَكْبَرُ وَلَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰه [1]

بيا ئې ”اَللّٰهُمَّ اغْفِرْلِيْ“ اوويئيل يا ئې څه دُعا اوغوښتله، بيا ئې که اودس اوکړو او لمُونځ اوکړو نو د هغه لمُونځ به قبول کړے شي.

(بخاری، 391/1، حدیث: 1154)

(2) د حضرت عبدُ الله بن عَمرو رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دے چې نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: څوک چې د خوب نه د راپاڅيدو په وخت ”بِسْمِ

---

1 ••• ترجمه: ”د الله پاک نه علاوه بل هيڅ معبود نشته هغه يو دے د هغه سره څوک هم شريک نشته، د هغه بادشاهي ده او د هغه خوبياني او هغه په هر څيز قدرت لري. الله ”پاک“ دے او الله پاک (ټول) خوبيانو والا دے او د الله پاک نه علاوه بل هيڅ معبود نشته، او الله پاک د ټولو نه لوئ دے او د ګناه نه د بچ کولو طاقت او د نيکئ کولو طاقت د الله پاک له طرفه حاصليږي.“

اللّٰہِ ،سُبْحَانَ اللّٰہِ ،اٰمَنْتُ بِاللّٰہِ وَکَفَرْتُ بِالْجِبْتِ وَالطَّاغُوْتِ"[1] لس لس ځله اووائي نو (هغه به) د هغې هرې ګناه نه بچ کولے شي د کومې چې د هغه سره ويره وي او يوه ګناه به هم هغه ته اونه رسي. (مجمع الزوائد، 174/10، حديث: 17060)

(3) " اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ الَّذِیْٓ اَحْيَانَا بَعْدَ مَآ اَمَاتَنَا وَاِلَيْهِ النُّشُوْرُ" ترجمه: "ټول تعريفونه الله پاک لره دي چا چې مونږ ته د مرګ (خوب) نه پس ژوند (رابيداريدل) عطا کړه او زمونږه هغه طرف ته واپس ګرځيدل دي." (بخاری، 192/4، حديث: 6312)

## د "يا خُدا" د 5 حروفو په نسبت د سحر او ماښام 5 اذکار

(1) د حضرت ابو هُريره رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ نه روايت دے چې يو کَس د رسولُ الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَيْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په دربار کښې حاضر شو او عرض ئې اوکړو: يا رسولَ الله! صَلَّی اللّٰہُ عَلَيْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ما داسې لړم چرته هم نه وو ليدلے کوم چې زه بيګاه چيچلے ووم. رسولُ الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَيْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد اوفرمائيلو: "اَعُوْذُ بِكَلِمَاتِ اللّٰہِ التَّآمَّاتِ مِنْ شَرِّ مَا خَلَقَ "[2] ولې نه لوستل چې لړم تا ته هيڅ نقصان نه وے رسولے. (ابن حبان، 180/2، حديث: 1016) (دلته د مخلوق نه مراد هغه مخلوق دے د کوم نه چې شر رسي)

(2) د حضرت اَبان بن عثمان رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ نه روايت دے چې نبي کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَيْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد اوفرمائيلو: کوم کَس چې سحر او ماښام درې درې ځله

---

1… ترجمه: "د الله پاک په نوم سره ، الله" پاک " دے، ما په الله پاک ايمان راوړو او د بُت او شيطان نه منکر شوم-"

2… ترجمه: زه د الله پاک د پوره او کامِلو کَلِماتو سره د مخلوق د شر نه پناه غواړم.

دا لولي، نو هغه ته به يو څيز هم نقصان نشي رسولے: ”بِسْمِ اللّٰهِ الَّذِیْ لَا یَضُرُّ مَعَ اسْمِهٖ شَیْءٌ فِی الْاَرْضِ وَلَا فِی السَّمَآءِ وَ هُوَ السَّمِیْعُ الْعَلِیْمُ“

ترجمه: ” د الله په نوم سره د چا د نوم په برکت چې د زمکې او آسمان هيڅ څيز نقصان نشي رسولے او هغه اوري پوهيږي.“ (ترمذی، 251/5، حديث: 3399)

**(3)** حضرت ابو هريره رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ فرمائي چې د الله پاک خوږ خوږ آخري نبـي مکي مَدَني، محمدِ عربي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: چا چې سحر او مانبام سل سل ځله ”سُبْحَانَ اللّٰهِ وَبِحَمْدِهٖ“ اولوستل د قيامت په ورځ به د هغه نه غوره عمل راوړونکے بل څوک نه وي ولې هغه چې د ده په مثل اووائي يا د ده نه زيات اولولي. (مسلم، ص 1445، حديث: 2692)

**(4)** حضرت ابو دَردَاء رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ فرمائي چې چا سحر او مانبام ووه ووه ځله اولوستل: ”حَسْبِیَ اللّٰهُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ عَلَیْهِ تَوَکَّلْتُ وَهُوَ رَبُّ الْعَرْشِ الْعَظِیْمِ“

ترجمه: ”زما د پاره الله کافي دے د هغه نه علاوه د بل چا بندګي نشته ما په هغه اعتماد اوکړو او هغه د لوئ عرش مالک دے.“ الله پاک به د هغه په ټولو پريشانو کښې کفايت [يعني پوره والے] اوکړي. (ابو داود، 416/4، حديث: 5081)

**(5)** حضرت مُنَيذِر رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ فرمائي چې ما خوږ آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په دې فرمائيلو سره واوريدلو: څوک چې سحر دا اووائي: ”رَضِیْتُ بِاللّٰهِ رَبًّا وَّبِالْاِسْلَامِ دِیْنًا وَّبِمُحَمَّدٍ نَّبِیًّا“ ترجمه: ”زه د الله پاک په رَبّ کيدو او د اسلام په دين کيدو او د حضرت محمد صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په نبي کيدو راضي يم.“ نو زه هغه ته

په خپل لاس د نيولو سره جنّت ته د بوتللو ضمانت ورکووم.

(مجمع الزوائد، 157/10، حديث: 17005)

## د ”اَحَد“ د دريو حروفو په نسبت د كلمۀ توحيد 3 فضائل

**(1)** د حضرت ابو اُمامه رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ نه روايت دے چې رسولُ الله صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: چا چې ” لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَهٗ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ“ (ترجمه: د الله پاک نه علاوه بل هيڅ معبود نشته هغه يو دے د هغه سره څوک شريک نشته د هغه د پاره ده بادشاهي او د هغه د پاره حمد دے او هغه په هر څه قادر دے.) اووئيل نو د دې عمل نه به بل هيڅ يو عمل مخكښې نه ځي او د دې سره به هيڅ ګناه باقي پاتې نه شي. (مجمع الزوائد، 94/10، حديث: 16824)

**(2)** حضرت عَمرو بن شُعيب رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ د خپل والد صاحب په واسطه د خپل نيكه نه روايت كوي چې نبي كريم صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: بهترينه دُعا د عَرَفې د ورځې دُعا ده او د ټولو نه بهتره كلمه كومه چې ما او زما نه مخكښې انبياء عَلَيۡهِمُ السَّلَام وئيله: (هغه دا ده:) ” لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَهٗ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ“ (ترمذى، 339/5، حديث: 3596)

**(3)** د حضرت بَراء بن عازِب رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ نه روايت دے چې د مدينې تاجدار صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: چا چې سپين زر يا پيئ صدقه كړه يا ئې نابينا (ړوند) ته لاره اوښودله نو دا د يو غلام آزادولو په شان دي او چا چې ”لَآ اِلٰهَ

اِلَّا اللهُ وَحۡدَہٗ لَا شَرِیۡكَ لَهٗ لَهُ الۡمُلۡكُ وَلَهُ الۡحَمۡدُ وَهُوَ عَلٰی کُلِّ شَیۡءٍ قَدِیۡرٌ“ اووئيل نو دا هم د يو غلام آزادولو په شان دي. (مسند امام احمد، 408/6، حديث: 18541)

## په ايمان د خاتمې د پاره 4 آوراد

يو کَس د اعلٰـی حضرت رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ په دربار کښې حاضر شو او په ايمان ئې د خاتِمه بِالخير د پاره د دُعا پوښتنه اوکړه نو هغوئي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ د هغوئي د پاره دُعا اوکړه او اِرشاد ئې اوفرمائيلو:

﴿1﴾ (هره ورځ) 41 ځله سحر ”یَاحَیُّ یَاقَیُّوۡمُ لَآ اِلٰهَ اِلَّآ اَنۡتَ“ (اے هميشه ژوندي پاتې کيدونکيه! اے هميشه قائم پاتې کيدونکيه! بل هيڅ معبود نشته خو صرف ته ئې) اوّل و آخِر دُرُود شريف (لوله).

﴿2﴾ د اوده کيدو په وخت د خپلو ټولو آورادو نه پس **سُورۂ کافرون** روزانه لوله د دې نه پس خبرې وغيره مه کوه آؤ که چرې ضرورت وي نو د خبرو نه پس د سُورۂ کافرون تلاوت کوه چې خاتمه دې په دې وي اِنۡ شَآءَ اللهُ الۡکَرِيۡم! خاتمه به په ايمان وي. او

﴿3﴾ درې ځله سحر او درې ځله ماښام دا دُعا لوله: ”اَللّٰهُمَّ اِنَّا نَعُوۡذُبِكَ مِنۡ اَنۡ نُّشۡرِكَ بِكَ شَيۡئًا نَّعۡلَمُهٗ وَنَسۡتَغۡفِرُكَ لِمَا لَا نَعۡلَمُهٗ“ ترجمه: ”يا الله پاکه! مونږه ستا پناه غواړو د دې نه چې مونږ د پوهې سره ستا سره څوک شريک کړو او مونږه د هغې نه اِستغفار کوو کوم چې نه پيژنو.“ (مسند امام احمد، 146/7، حديث: 19625. ملفوظاتِ اعلیٰ حضرت، ص 311)

﴿4﴾ بِسۡمِ اللهِ عَلٰی دِيۡنِیۡ بِسۡمِ اللهِ عَلٰی نَفۡسِیۡ وَوُلۡدِیۡ وَاَهۡلِیۡ وَمَالِیۡ. (ترجمه: ”د الله پاک

د نوم په برکت سره دې زما د دين، ځان، اولاد، اهل او مال حفاظت وي.) سحر او ماښام درې درې ځله لوله، دين، ايمان، ځان، مال او بچي هر څه به دې محفوظ وي. (شجره قادِريه رضويه، ص 12) (د لمَر پرېوتو نه د صبحِ صادِق پورې، د شپې او د نيمې شپې تېرېدو نه د لمَر د وړومبۍ سِرې وهلو پورې سحر دے.)

## د ګناهونو بخښنه

"لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَ اللّٰهُ اَكْبَرُ وَ الْحَمْدُ لِلّٰهِ وَ سُبْحٰنَ اللّٰهِ وَ لَا حَوْلَ وَ لَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰه"

څوک چې دا وِرد لولي د هغه ګناهونه بخښلے کيږي اګرچې د سمندر د ځګ برابر وي. (مسند امام احمد، 662/2، حديث: 6977)

## خلور کروړه نيکۍ اوګټئ

"اَشْهَدُ اَنْ لَّآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَهٗ اِلٰهًا وَّاحِدًا اَحَدًا صَمَدًا لَّمْ يَتَّخِذْ صَاحِبَةً وَّ لَا وَلَدًا وَّلَمْ يَكُنْ لَّهٗ كُفُوًا اَحَدٌ"

د حضرت تَمِيم داري رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دے چې د نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ عاليشان دے: کوم ګَس چې دا کلمات 10 ځله اووائي، د داسې ګَس د پاره خلور کروړه نيکۍ ليکلے شي. (ترمذی، 289/5، حديث: 3484)

## د شيطان نه د بچ کيدو عمل

"لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَهٗ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ"

د حضرت ابو هريره رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دے چې د رسولُ الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ

وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان دے: چا چې دا کلمات په ورځ کښې 100 ځله اووئيل نو د هغه دا عمل به د لسو غلامانو آزادولو برابر وي او د هغه نامۀ اعمال کښې به 100 نيکئ ليکلے شي او د هغه به 100 ګناهونه معاف کولے شي او دا کلمات به په هغه ورځ تر ماښامه پورې (د هغه) حفاظت کوي او څوک به د هغه نه بهتره عمل نه راوړي خو هغه چې د ده نه زيات دا عمل اوکړي.

(بخاری، 402/2، حدیث: 3293)

## د غيبت نه د بچ کيدو مَدَني نُسخه

د حضرت علّامه مَجدُ الدّين فيروز آبادي رَحۡمَۃُاللہِ عَلَيۡہ نه نقل دي: کله چې په يو مجلس کښې (يعني د خلقو سره) کښينئ نو وائې: "بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ وَصَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّدٍ" نو الله پاک به په تاسو يوه فرښته مقرّره کړي کومه چې به تاسو د غيبت نه بچ کوي او کله چې د مجلس نه پاځئ نو وائې: "بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ وَصَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّدٍ" نو هغه فرښته به خلق ستاسو د غيبت نه منع کوي.

(القول البدیع، ص 278)

## پينځه مَدَني ګلونه

د حضرت عبدُ الله بن عَمرو بن العاص رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ ارشاد دے: پينځه عادتونه داسې دي چې څوک هغه خپل کړي نو په دنيا او آخرت کښې به سعادت مند شي:

﴿1﴾ وخت په وخت "لَآ اِلٰہَ اِلَّا اللّٰہُ مُحَمَّدٌ رَّسُوۡلُ اللّٰہِ" صَلَّی اللہُ عَلَيۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم وائي.

﴿2﴾ کله چې په يو مصيبت کښې ګير شي (مثلاً بيمار شي يا ئې نقصان اوشي يا د پريشانئ خبر واوري) نو "إِنَّا لِلّٰهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُونَ" او "لَاحَوْلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ الْعَلِيِّ الْعَظِيْمِ" لولي.

﴿3﴾ چې کله ورته هم نعمت ميلاؤ شي نو شکرانه کښې "اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ" اووائي.

﴿4﴾ کله چې يو جائز کار شروع کوي نو "بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ" لولي او

﴿5﴾ که چرې ترې ګناه اوشي نو اووائي "اَسْتَغْفِرُ اللّٰهَ الْعَظِيْمَ وَاَتُوْبُ اِلَيْهِ" (يعني زه د عظمت والا الله پاک نه مغفرت غواړم او د هغه په لور توبه کووم) (المنبهات، ص57)

## د جادو او بلاګانو نه د حفاظت د پاره شَش قُفل (شپږ تالې)

دې شپږو دُعاګانو ته "شَش قُفل" وئيلے شي، کوم کَس چې د شپې هميشه شَش قُفل لولي يا ئې اوليکي او د ځان سره ئې اوساتي نو هغه به د هرې ويرې او خطرې، جادو او هر قسمه بلاګانو نه اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيْم! محفوظ وي. (جنتی زيور، ص582)

قفل اوّل: "بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ السَّمِيْعِ الْبَصِيْرِ الَّذِىْ لَيْسَ كَمِثْلِهٖ شَيْءٌ وَّهُوَ عَلٰى كُلِّ شَىْءٍ قَدِيْرٌ"

قفل دُويم: "بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الْخَلَّاقِ الْعَلِيْمِ الَّذِىْ لَيْسَ كَمِثْلِهٖ شَيْءٌ وَّهُوَ الْفَتَّاحُ الْعَلِيْمُ"

قفل دریم: ’’بِسۡمِ اللهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ بِسۡمِ اللهِ السَّمِيۡعِ الۡبَصِيۡرِ الَّذِیۡ لَيۡسَ كَمِثۡلِهٖ شَيۡءٌ وَّهُوَ الۡعَلِيۡمُ الۡبَصِيۡرُ‘‘

قفل خلورم: ’’بِسۡمِ اللهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ بِسۡمِ اللهِ السَّمِيۡعِ الۡبَصِيۡرِ الَّذِیۡ لَيۡسَ كَمِثۡلِهٖ شَيۡءٌ وَّهُوَ الۡغَنِیُّ الۡقَدِيۡرُ‘‘

قفل پینځم: ’’بِسۡمِ اللهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ بِسۡمِ اللهِ السَّمِيۡعِ الۡبَصِيۡرِ الَّذِیۡ لَيۡسَ كَمِثۡلِهٖ شَيۡءٌ وَّهُوَ الۡعَزِيۡزُ الۡغَفُوۡرُ‘‘

قفل شپږم: ’’بِسۡمِ اللهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ بِسۡمِ اللهِ السَّمِيۡعِ الۡبَصِيۡرِ الَّذِیۡ لَيۡسَ كَمِثۡلِهٖ شَيۡءٌ وَّهُوَ الۡعَزِيۡزُ الۡغَفُوۡرُ الۡحَكِيۡمُ فَاللهُ خَيۡرٌ حَافِظًا وَّهُوَ اَرۡحَمُ الرّٰحِمِيۡنَ‘‘

## د لمونځ کولو نه پس لوستونکي اَوراد

د لمَانځه نه پس چې کوم اوکړده ذکرونه په احادیثو مبارکو کښې راغلي دي هغه دې د ماسپخین، ماښام او ماسخُتن د سنتو نه پس اولوستے شي، د سُنّتو نه مخکښې په لنډه دُعا قناعت [صبر] پکار دے، ګنې بیا به د سنّتو ثواب کم شي. (ردالمحتار، 300/2. بهارِ شریعت، 539/1. حصه: 3)

په احادیثو مبارکو کښې چې د کومې دُعا په نسبت کوم شمیر راغلے دے هغې کښې کمے زیاتے مه کوئ، کوم فضیلتونه چې د دغه ذکرونو د پاره دي هغه د دغه شمیر سره خاص دي په هغې کښې د کمي یا زیاتي مثال دا دے چې یو قُفل (یعني جرنده) په یو خاص قسم چابئ بیرته کیږي اوس

که چرې په چاپۍ کښې غابښ کم يا زيات کړے شي نو بيا به پرې نه بيرته کيږي، البته که چرې په شمير کښې شک شي نو زيات کولے ئې شي او دا زيات والے نه دے بلکه اِتمام (مکمل کول) دي.

(ردالمحتار، 302/2، بهارِ شريعت، 539/1، حصه: 3)

د پينځه وخته لمُونځونو د سُنّتو او نوافلو نه د فارغيدو نه پس دا لاندې آورَاد اولولئ د آسانئ د پاره نمبرې ورکړے شوې دي خو دې کښې ترتيب شرط نه دے. د هر وِرد نه مخکښې او وروستو دُرُود شريف لوستل ډير ښه دي.

﴿1﴾ "آيَةُ الْكُرسی" يو ځل لوستونکے به د مرګ کيدو سره جنّت ته ځي.
(مشكاةالمصابيح، 197/1، حديث: 974)

﴿2﴾ "اَللّٰهُمَّ اَعِنِّيْ عَلٰى ذِكْرِكَ وَشُكْرِكَ وَحُسْنِ عِبَادَتِكَ" ترجمه: اے الله پاکه! ته په خپل ذِکر، په خپل شکر او په خپل ښه عبادت زما مدد اوکړه.(ابو داود، 123/2، حديث:1522)

﴿3﴾ "اَسْتَغْفِرُاللّٰهَ الَّذِیْ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَالْحَیُّ الْقَيُّوْمُ وَاَتُوْبُ اِلَيْهِ"[1]
(درې درې ځله) د هغه ګناهونه به معاف شي که هغه د ميدانِ جهاد نه راتښتيدلے ولې نه وي. (ترمذی، 336/5، حديث: 3588)

﴿4﴾ تسبيح فاطمه رَضِیَ اللّٰهُ عَنها: "سُبْحَانَ اللّٰه" 33 ځله، "اَلْحَمْدُ لِلّٰه" 33 ځله، "اَللّٰهُ اَكْبَرُ" 33 ځله، دا 99 شو، آخر کښې "لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَهٗ لَهُ الْمُلْكُ

[1]... ترجمه: "زه د الله پاک نه معافي غواړم د کوم نه علاوه چې بل معبود نشته هغه ژوندے دے قائم ساتونکے دے او د هغه په دربار کښې توبه کووم-"

وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلٰی كُلِّ شَیْءٍ قَدِیْرٌ"[1] يو ځل اولولئ (100 ځله پوره کړئ) د هغوئي ګناهونه به اوبخښلے شي اګرچې د سمندر د زګ برابر وي.

﴿5﴾ د هر لمُونځ نه پس د تندي په بره حصه لاس کيږدئ او اولولئ: "بِسْمِ اللهِ الَّذِیْ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ الرَّحْمٰنُ الرَّحِیْمُ ط اَللّٰهُمَّ اَذْهِبْ عَنِّی الْهَمَّ وَالْحُزْنَ"[2]

(د لوستلو نه پس لاس ښکته په تندي راښکاږئ) نو د هر غم او پريشانئ نه به بچ شئ. اعلٰی حضرت امامِ اهلِسنت مولانا شاه احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د ذکر شوې دُعا په آخره کښې نور دا الفاظ زيات کړي دي: "وَعَنْ اَهْلِ السُّنَّةِ" يعني او د اهلِسنت نه.

﴿6﴾ د مازديګر او سحر (لمُونځ) کولو نه پس بغير د ښپو اړولو، بغير د خبرو کولو "لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَهٗ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ بِيَدِهِ الْخَيْرُ يُحْيِيْ وَيُمِيْتُ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَیْءٍ قَدِيْرٌ ط"[3] لس لس ځله اولولئ. (بهارِ شريعت، 539/1، حصه: 3)

---

1… ترجمه: د الله پاک نه علاوه بل معبود نشته هغه يو دے د هغه هيڅ څوک شريک نشته، د هغه مُلک دے، د هغه حمد دے، هغه په هر څيز باندې قادر دے.

2… ترجمه: د الله پاک په نوم شروع کووم د چا نه علاوه چې بل معبود نشته، هغه رحمان او رحيم دے، اے الله پاکه! زما نه غم او پريشاني لرې کړه.

3… ترجمه: د الله پاک نه علاوه بل معبود نشته، هغه يو دے، د هغه هيڅ څوک شريک نشته، د هغه د پاره مُلک او حمد دے، د هغه په لاس کښې خير دے، هغه ژوندے دے او مرګ ورکوي او هغه په هر څيز باندې قادر دے.

﴿7﴾ د حضرت اَنَس رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ نه روایت دے چې د الله کريم آخري نبي صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: چا چې د لمُونځ کولو نه پس دا اوويئيل: " سُبۡحَانَ اللّٰهِ الۡعَظِيۡمِ وَ بِحَمۡدِهٖ لَاحَوۡلَ وَ لَاقُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰه"[1] نو هغه به په دې حالت کښې را پاڅي چې بخښلے شوے به ئې. (مجمع الزوائد، 129/10، حديث: 16928)

﴿8﴾ د حضرت ابنِ عباس رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ نه روایت دے چې د سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ عاليشان دے:" څوک چې د هر فرض لمُونځ نه پس لس ځله قُلۡ هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ (پوره سورت) اولولي الله پاک به د هغوئي د پاره خپله رضا او مغفِرت لازم کړي." (تفسير در منثور، پ30، الاخلاص، تحت الآية: 1، 678/8)

﴿9﴾ د حضرت زَيد بن اَرقم رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ نه روايت دے چې خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد اوفرمائيلو: کوم کَس چې د هر لمَانځه نه پس سُبۡحٰنَ رَبِّكَ رَبِّ الۡعِزَّةِ عَمَّا يَصِفُوۡنَ. وَسَلٰمٌ عَلَى الۡمُرۡسَلِيۡنَ. وَالۡحَمۡدُ لِلّٰهِ رَبِّ الۡعٰلَمِيۡنَ[2] (پ23، الصّٰفّٰت: 182180)

درې ځله اولولي لکه چې هغه د اَجر ډيره غټه پيمانه ډکه کړه.

(تفسير در منثور، 23، الصّٰفّٰت، تحت الآية: 180، 141/7)

---

1… ترجمه: "پاک دے عظمت والا رَبّ او د هغه تعريف دے او د هغه په عطا باندې د نيکئ توفيق او ګناه نه د بچ کيدو طاقت ميلاويږي."

2… [مفهوم] ترجمهٔ کنز الايمان: "پاکي ده ستاسو رَبّ له عزت والا رَبّ له د هغوئي د خبرو نه او سلام دے په پيغمبرانو باندې او ټولې (ښهٔ) خوبياني الله پاک له دي کوم چې د ټولو جهانونو رَبّ دے."

## په (يو څو) منتو کښې د څلور ځله ختمِ قرآنِ پاک ثواب

د حضرت ابو هُريره رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡهُ نه روايت دے چې د رسولُ الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: څوک چې د سحر (د لمُونځ) نه پس 12 ځله قُلۡ هُوَاللّٰهُ اَحَدٌ (پوره سورت) اولولي لکه چې هغه څلور ځله (پوره) قرآنِ پاک اولولي او په هغه ورځ د هغوئي دا عمل د زمکے والؤ نه افضل دے خو چې تر څو هغوئي د تقوىٰ پابند وي. (شعب الايمان، 501/2، حديث: 2528)

## د شيطان نه د بچ کيدو عمل

د سرکارِ مدينه صَلَّی اللّٰہُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ عاليشان دے: چا چې د سحر لمُونځ ادا کړو او د خبرو کولو نه بغير ئې قُلۡ هُوَاللّٰهُ اَحَدٌ (پوره سورت) لس ځله اولوستلو نو په هغه ورځ کښې به هغه ته هيڅ ګناه نشي رسيدے او هغه به د شيطان نه بچ کولے شي. (تفسير در منثور، پ30، الاخلاص تحت الآية: 1، 678/8)

د لمُونځ نه پس لوستونکي نور اَوراد د مكتبة المدينه د کتاب بهارِ شريعت حصه 3، صفحه 107 نه 110 باندې الوظِيفَةُ الكريمَه اور شجرهٔ قادريه کښې اوګورئ.

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

## نیك او لمونځ گزاره جوړېدو د پاره

هر زیارت د ماښام د لمانځه نه پس ستاسو په ځائے کښې کېدونکي د **دعوتِ اِسلامي** د سُنّتو ډکه هفته واره اجتماع کښې د رِضائے اِلٰهي د پاره ښو ښو نِیَتونو سره توله شپه تېروئ ❁ د سُنّتو د تربیّت د پاره **مَدَني قافِلو** کښې عاشِقانِ رسُول سره هره میاشت د درې ورځو سفر او ❁ هره ورځ د "**فِکرِ مَدینه**" په ذریعه د **مَدَني اِنعاماتو** رِساله ډکوئ او د هرې مَدَني میاشتې په یکم تاریخ ئې د خپل ځائے ذِمّه دار ته د جمع کولو معمول جوړ کړئ.

زما مَدَني مقصد: "**ما ته د خپل ځان او د ټولې دُنیا د خلقو د اِصلاح کوشش کول دي.**" اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ. د خپلې اِصلاح د پاره په "**مَدَني انعاماتو**" عمل او د ټولې دُنیا د خلقو د اصلاح د کوشش کولو د پار "**مَدَني قافِلو**" کښې سفر کول دي. اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ








فیضانِ مدینه محلّه سوداگران زړه سبزي منډۍ، بابُ المدینه (کراچۍ)

UAN: +92 21 111 25 26 92 | Ext: 7213

Web: www.maktabatulmadinah.com | E-mail: feedback@maktabatulmadinah.com